
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۶/۰۶/۰۴

# زموږ په اقتصاد او د استخدام د فرصتونو ايجاد کې د مالداري رول



تېرو شلوکلونو کې پر موږ د لبرال ديموکراسي باد را ولګېد، خو نه مو خصوصی سکتور سم جوړکړای شو، نه مو بهرنۍ مرستې سمې وکارولې. آن دا چې ډېرو مقاماتو لا د (آزد بازار) او د (بازار داقتصادی نظام) توپير نشو کولای، د اقتصاد تر څنګ، سياست، مطبوعات، ټولنيز نظم او آن تعليمي برخه د ټولنې له عيني واقعيتونو لرې وه، تنظيم شوی پراخ فساد يې سرباری! نورې نړۍ په بېړه MDGs راونغاړله او دادی SDGs نغاړلو ته يواځی درې کاله پاتې دي!! موږ چې دغو ټکيو ته ګورو، سرمو ګنکس شي چې دا يې لا څه شی دي؟ (افغانستان د وصل کړی) ښه شعار و، خو چا نه پرېښودو، (آب آبروی ما) يو ضرورت و، خو ګاونډيان لا مخکی د هغو په مفته استعمال عادت شوی وو، درسی کتابو ته مو منطقوی اقتصاد، منطقوی سازمانونه، د لوبې نظريه( game theory)، ...ډېرې نورې خبرې راوړې، خو ټولې خاک ودود شوې. دلته ساده او کليوالي خبرې کوم او خپل ټغر ته به ګورو پښې به ورسره غځوو:
نورو هېوادو کې د کار ځواک په حرفوي او مسلکي ډول روزل شوی دی، د تکنالوژي او تخصصی مهارت په مټ صنعتی تصديو او کارخايونو کې د اونۍ شپږ ورځې او هره ورځ اته- نهه ساعته کار کوي. افغانان دا امکانات او د دې ډول کار لپاره تکنالوژی او مهارت او حتا انرژي نه لري، هيله ده دا کمښت پوره کړو، خو ترهغه مهاله نور امکانات لرو، مثلاً د دوی لپاره مالداري نه سخته او نه ستومانووکې ده.

### چې داسې ده، نو مالداري له کوم پلوه ضرورده؟

افغانستان متنوع اقليم لري، خو د کرنې ټول سکتور کې هارتيکلچر چې د لوړ عايد تمه ورڅخه کيږي، زياتو اوبو، د محصولاتو صنعتي پروسس، سړو خونو، د ترانسپورت آسانتيا او آن لابراتوارونو ته اړتيالري. له همدې امله محدودو سيمو ته يې سپارښت کيږي، اګرانومی نسبتاً مناسبه ده، په تېره بيا چې غنم په للمی ښه هم کرل کيدای شی. ښوالي لړو اوبو ته اړتيا لري، خو نباتي ناروغۍ او ږلۍ د افغانستان ښوالی ته هرکال لوی زيان اړوي او موسمی بيکاري لري. د څارويو روزنه له اصلی (تارګيت) توليد سره، متمم محصولات( شيدی، پوستکی، غوښه اووړۍ) لري، چې ملی ناخالص توليد او د ټول وخت شغلونه رامنځته کولای شي. په دې کې د هر کور دوه- درې څاروی روزنه چې يوه عنعنوی مالداري وه يو خوا، خو مهمه داده چې د مالدارۍ عصری يا اقلاً نيمه عصري فارمونه تاسيس کړو. دا ډول فارمونه موږ پخوا لرل: دبينی حصار د مالداری فارم، د هډې د څارويو(غواګانو د روزنی ) فارم او څو نور. افغانستان د مالدارۍ د برخې يو شمير توليدات بهر ته هم صادرولای شي لکه پوستکي، کشميره(کرک) او وړې ، خو د دې په پرتله موږته ژوندي څاروي او د هغو محصولات لکه غوښه، هګۍ او لبنيات مهم دي. يو شمير ژوندی څاروي په فزيکي کار(قلبه، باروړلو، ارهټ ګرځولو، ګانۍ د شرشم تيلو کښلو ..) کی په کاريږي. دغې تقاضا ته له وارداتي لارې ځواب نشو ويلای. د ژوندی څارويو آن ډېران ګټور دی، دا ځکه چې زموږ خاورې زياتره منرالي دي، عضوي مواد نه لري.

افغانستان د مالدارۍ د ډېر ژر ودې لپاره ډېر ښه پوتانشيل لري. دغه سکتور کولای شي چې د اقتصادي ودې او کارموندنې لپاره ډېره ښه ونډه ولري او بهرنۍ سوداګري کې واردات تعويض کړي. موږ د څارويو د روزنی فزيکي چوکاټ( physical frame work) دهغی موسساتي( institutional framework) او اقتصادی چوکاټ( Eco. Framework) پورې نه دی رسولی. د موسساتی چوکاټ له پلوه څاروي روزنه په افغانستان کې د ډېرو کسانو لپاره يوه په زړه پورې بوختيا او د بيوزلو له خوا ترسره کېدونکی او مغذي خوراکي توکي توليدوي. په مالدارۍ کې ښځې هم بوختېدای شي(کورنی اقتصاد). موسساتی چوکاټ مې ځکه ياد کړ چې آريائيان له پخوا مالدار وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نومادیزم او مالداری زموږ دنیکونو دژوند یو طرز و، کافی تجربه یې لرو او کلیوالو خلکو ته هم نظر یو شمېر حرفو او کسبونو ته مالداري ښه شُغل ښکاري. آن دا چې کلیوالي سیمو کې د غواګانو لرل د حساب وړ خبره ده.

په دودیز ډول مالداري دوه ډوله وه/ ده: د میشت خلکو مالداریَ او د کوچیانو مالداري. کوچاني څاروي روزنه د بیوزلو ( کوچیانو) لپاره د ژوند یوه وسیله ده او جینیتکی بانک دی. هغه زیاته اندازه غوښه، پوستکي او وړیَ چې بازارونو ته رارسیږي له همدې سیستم څخه ده. په کوچیاني طریقه باندې څاروي روزنه ډېر کم تولید لري، په تیره بیا د ژمي او وچکالیو پر مهال ډېره زیانمنه کیږي. د میشتو خلکو مالداري د هغو بزګرانو څاروي روزنه ده چې دوی دیشین دي او معمولاً یو څو پسونه، وزې یا غواګانې چې خپلو کروندو کې یې ساتي. دا ډول څاروي روزنه د بوسو او د خوراکي لپاره د وښو د پوره کولو په خاطر د اوبخور سیستم موجودیت پورې تړلې ده.

لږ تولید لرونکي څاروي، ناروغي، ضعیفه تغذیه، وچکالي او د ورستیدونکو توکیو لپاره په بازار موندنه د مالداریَ د دبرخې ستونزې دي. په دغو ستونزو باندې برى او د کوچیاني او دیشین خلکو د مالداریَ د ستونزو حل یو څه تدابیر غواړي. هغه بزګران چې اوبه لرونکی ځمکې لري، ښاري بازارونو ته لنډ وي او د لبنیاتو، هګیو او غوښې د تجارتي تولید لپاره ښه امکانات لري، دوی کولای شي د ښاري ګړندیو وده کوونکو بازارونو د تقاضا دپوره کولو لپاره په عرضه کې ښه سیالي وکړي. زیات شمیر هغه کروندګر چې په ښه وضیعت کې دي، د تولید په کوچنیو کچو تولید کوي(لکه کونږ کی د پوڅې او خېدک تولید)، خو سره له دې په لویه کچه هم تولیدات شته د بیلګې په توګه یو شمیر د چرګانو د روزنې فارمونه او د لبنیاتو (شیدو) تولید او نور.

د مالداریَ محصولاتو د زیاتولو لپاره یو شمېر پروګرامونو لکه: مصنوعي القاح، د غوره نسلونو ترویج، د وترنریَ خدمتونو بهبود، د سپینږیرو مالدارانوله غوره تجربو څخه استفاده کول، د حیوانی درملو او واکسین واردول، څارویو ته د ښه کیفیت لرونکی خوراکي برابرول، د څارویو د یو شمېر شرکتونو په مرسته د خوراکي تولید یاد تشبثونو په مرسته د سپلمنتونه(خښتې) چمتو کول، د مالداریَ د مدیریت ښه کول تر څو ناروغیَ او تغذیه ښه کنترول شي، د عصري مسلخونو او سړو خونو جوړول. د لبنیاتو د پروسس د مرکزونو جوړول (په اوچته تودوخې سره د شیدو پروسس) او د سوداګریزو ټولنو او کوپراتیفونو په مرسته د ارزښي زنجیرې همغږي رامنځته کول مناسب ګامونه دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړیَ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ